**د ملگرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی**

**د ویاند دفتر**
**کابل – افغانستان**

**تیلیفون:** ۰۰۳۹ ۰۸۳۱ ۲۴ ۶۱۲۱ – ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱
**بریښنالیک:** spokesperson-unama@un.org
**ویب پاڼه:** www.unama.unmissions.org

## رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**مریم شیرمن، د نړیوال بانک عمومی مدیره په افغانستان کی،**

**داکتر نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه،**

*کابل- دوشنبه د جون د میاشتی ۲۲ نیټه، کال ۲۰۰۹*

**مریم شیرمن، د نړیوال بانک عمومی مدیره په افغانستان کی،**

سهار مو نیکمرغه آغلو او ښاغلو، اجازه راکړئ ترهر څه وړاندې د هغې بلنې څخه مننه وکړم چې ماته مو د نړیوال بانک په اړه د خبرو لپاره راکړې ده، چې د هغې نوې ستراتیژی په اړه وغږیږم چې د افغانستان لپاره د جون په ۴ نېټه تصویب شوې ده.

اساسی مسله چې موږ یې غواړو تاسو سره شریکه کړو هغه د نړیوال بانک له نظره دا ده چې موږ یو شمیر ډیر ښه پرمختیایې پروژې لرو چې د ټول هیواد په کچه د دولت له خوا ترسره شوې دي او دا پر موږ او نړیوالې ټولنې پورې ده څو چې د دغو مهمو پروګرامونو ملاتړ ته دوام ورکړو او دا باوري کړي چې هغوي د خدمتونو رسولو ته د خلکو لپاره ادامه ورکړي. دا چې موږ احساسوو چې د ځینو دغو پروګرامونو په برخه کې ډیر زیات بریالیتوبونه شته هغه دا دي چې ټولنه د پروګرامونو په پلان کولو او پلی کولو کې ګډون کوي او دا چې هغوي په واقعي توګه محلي لومړیتوبونو ته ځواب ولري او د هیواد په کچه د هیوادوالو د ظرفیتونو په جوړولو کې ونډه لري.

هغه ستراتیژي چې په رسمي توګه د لنډ مهال ستراتیژی د یاددابنت په نامه یادیږي د ۲۰۰۹ـ ۲۰۱۱ کلونو لپاره ده او د ۶۰۰ میلیونو ډالرو د مرستې پروګرام احتواء کوي. دغه ستراتیژی زیاتره د هغه استقامت او لوری ادامه ده چې نړیوال بانک په افغانستان کې په تیرو اوو کلونو کې پرمخ بوولې ده، چې په هغې کې خلکو د عامه خدمتونو د رسولو څخه واخله د مثال په ډول د روغتیا او معارف په برخو کې ده، د کلیوالې پرمختیا لپاره اضافه ملاتړ ورکوي، چیرته چې د افغانستان زیاتره بې وزله وګړي اوسیږي او دا چې د دې لارې څخه یو مساعد چاپیریال چمتو کیږي چې خصوصي سکتور وده وکړي. خصوصي سکتور د افغانستان په پرمختیا کې ډیر مهم دی او دا ځکه چې خصوصي سکتور په راتلونکی کې د کار شرایط د ځوانانو لپاره برابروي.

د دې لامل چې موږ دې لنډمهاله ستراتیژی وایو دا دی چې هیواد یو جنګ ځپلې هیواد دی. دغه روش چې موږ یې په نړیوال بانک کې تعقیبوو، ډیره زیاته اسانتیا برابروي او په لنډمهال کې ترسره کیږي، نو ځکه زموږ ملاتړ به د حالاتو د بدلیدو سره په محل کې ځواب ویونکی وي او دا چې د افغان وګړو د پیژندل شوو لومړیتوبونو سره به تطابق ولري.

سره د دې چې په افغانستان کې موږ اوس هم له ډیرو سختو ستونزو سره مخامخ یو، خو بیا هم په یو شمیر ملي پروګرامونو کې پرمختګونه هم شوی دی لکه روغتیا، تعلیم، کرنه، کلیوالی ساختارونه او په ټیټه کچه مالي مرستې. دغه پروګرامونه ټول ملک ته رسیدلی دی او د میلیونو افغانانو په ژوند کې یې ښه والی راوستې دی.

زموږ لپاره لومړیتوب په دې کې دی چې له حکومت سره کار وکړو څو هغه هڅې تقویه کړو چې معقول ملي پورګرامونه جوړوي او په برابر او اغیزمنه توګه خدمتونه برابروي. د ملي پروګرامونو پرلپسې تقویه کول افغانانو ته د دې فرصت ورکوي چې خپلې اړتیاوې د روغتیا، تعلیم یا محلي ساختارونو په برخو کې پوره کړي.

موږ به هڅه وکړو چې حکومي بنیادي سیستمونه له دې لارې تقویه کړو چې په عامه مالي مدیریت، دوامداري مالی پانګې او شفافیت او حساب ورکونې باندې زور واچوو. دغه کار نتیجه ورکوي. عامه مالي مدیریت په افغانستان کې په وروستیو کلونو کې ډیر ښه شوی دی. د ملي انکشافي بودجې تر لاندی مصرفونه په ښه کیدو دي. تفتیش او کنترول جریان لري او د نورو پرمختیایي هیوادونو په پرتله د افغانستان مالي مدیریت په ښه حالت کې دی.

مالی مرستې چې بودجې ته رسیږي د کافی خوندي پروسې له لارې تیریږی او فساد اندازه راټیټوي.

دغه خبره ما زموږ په ستراتیژی کې بل ټکی ته رابولی. زموږ د روش اساسي ټکی دا دی چې له نورو تمویلوونکو سره خپلې هڅې د دې لپاره راغبرګې کړو چې د مرستو په ځای لګول یقیني شي. د نړیوالو مرستو دوه په دریمه برخه اوس هم د حکومت بودجې څخه بهر لګول کیږي. مرستې خوری وری دي او په انتخاب شویو ولایتونو کی لګول کیږي. چې له ملي پروګرامونو څخه سرچینی منع کوي. دغه کار د حکومت مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي. په حکومت کې د ظرفیت نشتوالی نور د دې سبب نه ګرځي چې له حکومت څخه صرف نظر وشي.

موږ فکر کوو چې د یوه همغاړي روش ښه بیلګه د افغانستان د بیا رغونې وجهي صندوق دی کوم چې د نږدې ۳۰ هیوادونو او نړیوالو سازمانونو څخه مالي سرچینې برابروي او بیا هغه د کلک مالي کنترول لاندې د افغانستان د بودجې له لارې په بشپړه توګه انتقالوي. د افغانستان د بیا رغونې وجهي صندوق تر اوسه نږدې ۳ میلیارده امریکایې ډالره راغونډ کړی چې د ښوونکو، روغتیایې کارکوونکو او همدارنګه په ملي پروګرامونو کې د یوی زیاتې اندازیې پانګونې د ملاتړ په موخه کارول کیږی.

د نړیوال بانک تولې مالي مرستې د ملي بودجې له لارې انتقالیږي او پروژې د اړوندو وزارتونو له خوا پلې کیږي. کله چې موږ حکومت ته د پروژو د پلي کولو اجازه ورکو، موږ همدارنګه په دې ټینګار کوو چې د برابرو شویو مالي سرچینو په هکله ډاډ حاصل کړي او دا باید معلومه کړي چې مالي سرچینې د ارادې وړ موخو لپاره لګول شوی. موږ همدارنګه د حکومت او پراختیایي شریکبانو سره یو ځای د نظارت چارې پرمخ بیایو.
ما د خصوصي سکتور د تمویل په هکله زیاتې خبرې وکړې، خو زه باید دا هم ووایم چې نړیوال بانک هم د خصوصي سکتور سره کار کوي او موږ د خپل نړیوالی مالي اتحادیې او د څو اړخیزې پانګونې د ضمانت د ایجنسي له لارې چې د خصوصي سکتور سره د هغوي د ودې او ښه والی په برخه کې کا رکوي، په کار بوخت یو.
په پای کې، د دغې نوی ستراتیژی په مټه نړیوال بانک د هغو بریالیتوبونو په اړه چې تر اوسه د افغانستان خلکو ته وړاندې شوی د هغو د پایداری او پیاوړتیا په هکله لکه څنګه چې د مخه یې یادونه وشوه په کلکه ژمن دی.
لکه څنګه چې د مخه یادونه وشوه، موږ باور لرو چې په دې هیواد کې ځینې ملي پروګرامونو ډیر عالی دی. د دغو پروګرامونو په مټه په رښتیا سره خلکو ته خدمتونه رسیږي، خو په دې برخه کې باید نور کارونه هم ترسره شي، موږ غواړو چې د راتلونکی لپاره هم دغه ملاتړ او ژمني له ځانه سره ولرو. ډیره مننه

**پوښتنې او ځوابونه:**

**طلوع تلویزیون:** په هیواد کې امنیتي وضیعت مخ په خرابیدو دی او دې خبری ته ستاسو په مطبوعاتي پاڼه کې هم اشاره کړی، په هیواد کې د امنیتي وضیعت په پام کې نیولو سره تاسو څومره ډاډه یاست چې دا نوی ستراتیژي به پلی شي؟

**نړیوال بانک:** په رښتیا سره چې امنیت یو چیلنج دی، خو لکه څنګه چې موږ پوهیږو په دې اړه بیلا بیل تصور موجود دی، خو هغه څه چې موږ د ملي پروګرامونو په اړه لیدلی، دا دي چې دا پروګرامونه د هیواد په ۳۴ ولایتونو ته غځیدلی دی، ځکه نو دا کار ډیر د هڅوني وړ دی. په زیاتو نا امنو سیمو کې د کار کولو په موخه هم یو لړ د پام وړ روښونو موجود دی، خو دا به د یوه چلینج په شان پاتې شي خو موږ باید د هغو سیمو په اړه چې هلته امنیت یو چیلنج نه دی او په سیمه ییزه کچه خلک د انکشافي کارونو د ترسره کولو په برخه کې په کار بوخت دی، له یاده و نه باسو.

**د افغانستان ملي راډیو تلویزیون:** دا نوی ستراتیژی به د ۲۰۰۹- ۲۰۱۱ کلونو لپاره نږدې ۶۰۰ میلیونه امریکایي ډالره لګښت ولري، آیا دا ټول لګښت د نړیوال بانک او یا نورو سرچینو له خوا تمویل کیږي؟

**نړیوال بانک:** دا ۶۰۰ میلیونه امریکایي ډالره د نړیوال بانک مرسته ده. دا د نړیوال انکشاف د سازمان له خوا برابریږي او د نړیوال بانک له خوا آسانه قرضي د نړی بی وزله هیوادو ته ورکړل کیږي.

**د آریانا تلویزیون:** تاسي ځینې ملي پروګرامونه یاد کړل لکه د ملي پیوستون پروګرام او دغه راز د وړې کچې مالي پروګرامونه او هغه پروژې چې د لنډې مودې لپاره وي. دغه پروژې دوه کاله مخکې تطبیق شوې دي او اوس کار نه کوي. تاسي دغه راز وویل چې دغو پروژو په افغانستان کې خلکو لپاره کارونه پیدا کړي دي. دغه کارونه دایمي او که موقتي دي؟ د وړې کچې د مالي مرستو ګټې ډیرې لوړې دي او خلک نه شي کولای چې هغه ادا کړي.

**نړیوال بانک:** کله چې موږ د ملي پروګرامونو په باب خبرې کوو، دغه پروګرامونه ټول کاری فرصتونه خلکو ته نه ورکوي. موږ باید لومړی د پروګرام هدفونه وپیژنو. د ملي پیوستون پروګرام له خلکو سره کار کوي چې د محلي جوړښتونو په اړه خپل لومړیتوبونه وټاکي. ښایي چې د کار موندلو په باب په دې برخه کې ګوت نیونه وي خو اصلي خبره د کارونو ایجادول نه ده. د مثال په ډول ټولنو غوره وګڼله چې د څښاک پاکې اوبه ولري، دوې غوره وګڼله چې د بریښنا د تولید وړې پروژې ولري چې رڼا یې ورکړي. زه فکر کوم چې دغه پروژې لنډ مهال پروژې نه دي. ځینې د دغو داسې پروژې دي چې ټولنو د راتلونکی لپاره غوښتې دي. البته د دې پروګرام شته چې دغو پروژو ته دوام ورکړي او د هغو ساتنه وشي چې ادامه پیدا کړي. د وړې کچې د مالي مرستو پروګرام اوس له (۴۰۰۰۰۰) څخه زیات مشتریان لري. تاسې کولای شې چې له میسفا

سره خبرې وکړئ چې دغه پروګرام تنظیموي. دوي د دغه تنظیم په باب ډیر تفصیلات لري. او تاسی به وګورئ چې دغه پروګرام د نورو ملکونو په پرتله بریالی دي. د بیرته ورکولو اندازه ۹۴ په سلو کي ده ځینی خلکو دغه پروګرام ګټور موندلی دی، چې تاسي یاده کړه دا ده چې ایا دغه پروګرام به په راتلونکی کي ادامه پیدا کړي او که څنګه، زه فکر کوم چې د دې لپاره زیاتې هڅې رواني دي.

**افغانستان ټایمز:** په دې ستراتیژي کې د نورو هغو په پرتله کوم نوی شي شته؟ تاسي وویل چې مرستي به د افغانستان د حکومت له خوا لګوئ په داسي حال کي چې د افغانستان حکومت په فساد اخته دی، تاسي څومره یقیني لرئ چې مرستي به په ښه طریقه ونه لګیږي؟

**نړیوال بانک:** زه فکر کوم چې په دې ستراتیژی کې نوی شی دی هغه د استراتیژی تکامل دي. موږ هغه ملي پروګرامونه تقویه کوو چې ښه خدمتونه عرضه کوي او موږ په دې ټینګار کوو چې: د کلیوالی سیمو پرمختیایي پروګرامونه دوام پیدا کړي ځکه چې د افغانستان زیات شمیر غریب خلک هلته اوسي او موږ هلیه من یو چې د کرنی له پروګرام سره مرسته وکړو. د فساد په اړه باید ووېل شي چې دغه ستونزه نه یوازې په افغانستان کې، بلکه په ټوله نړۍ کې شته. موږ دوه لارې لرو. موږ له حکومت سره کار کوو، ځکه موږ فکر کوو چې په راتلونکی کې به یوازې حکومت خلکو ته خدمتونه رسوي. د دې ضرورت شته چې مرستي کنترول شي او موږ به له حکومت سره مرستې وکړو چې مالي عامه مالي سرچیني په ښه طریقه اداره کړي. د خزانی، د تفتیش او د پیسو د اخیستلو په برخو کې زیات کار کیږي څنګه دوي دغه مرستي ولګولي، آیا په سیستم کې شفافیت شته او بله خبره د پروګرام طرحه کول دي.

**د بی بی سی پښتو راډیو:** تر نوې ستراتیژی لاندې به څومره خلک ګټمن شی او که چیري تاسی موږ ته ووایاست چې په تیرو پنځو کلونو کې تاسی د افغانستان سره څومره مرسته کړي؟

**نړیوال بانک:** تر اوسه چې موږ مجموعی مرسته کړی ده هغه ۱،۸۹ بلیونه امریکایی ډالرو ته رسیږی چې ۴۱ بیلابیلو پروګرامونو باندي لګیدلیږي. سربیره پر دې موږ د ۳۰ دونرانو له خوا د افغانستان د بیاودانولو د اعتبار صندوق مدیریت کړیدي، چې ټولټال ۳ بلیونه ډالره یی راټول کړي دي او ټول پر پرمختیا باندي مصرف شویدي. ما ته دا ډیره سخته ده چې ووایم چې دغه مرسته څومره خلکو ته رسیدلی. او زه فکر کوم چې دا سخته هم ده. خو زما په آند مهمه دا ده چې موږ ملی پروګرامونه تقدیم وو چې ټول هیواد ته رسیږی، او دا د زیاتو خلکو پر ژوندانه اغیزه کوي. د ملی پیوستون پروګرام لا پخوا د هیواد شلو زرو ټولنو ته رسیدلی دی. نو تاسی د خلکو د شمیر اندازه لګولاي شي. که چیري تاسی یو ښوونکی ته تنخواه ورکوئ، هغه څومره کسانو ته رسیږي؟ هغه د یوې ټولګي ټولو ځوانو نجونو او هلکانو ته رسیږي کوم چې د دغه هیواد راتلونکی دي. که تاسی روغتیایی خدمتونه آماده کوئ، ګوندي تاسی د راتلونکی لپاره ژوند وژغورئ. نو زه د شمیرو په هکله فکر کوم چې که تاسی په ملی سطحه یو سیستم رامنځته کړئ چې وکولاي شي یو مهارت وړاندي کړي، نو په حقیقی ډول سره کولاي شي ډیر ستر وي.

**سبا تلویزیون:** په داسي حال کي چې د حکومت په دننه کي پراخ اداري فساد موجود دی، نږدې ۱,۹۸ میلیونه امریکایي ډالره تر اوسه د حکومت له لاري مصرف شوی دي، آیا تاسو کولای شي ووایاست کومی پیسي چې د نړیوال بانک له خوا برابرې شوی په ناسمه توګه نه دی مصرف شوي؟ تاسو د قانون د حاکمیت او د امنیتي چیلنجونو د نه شتون په هکله هم یادونه وکړه. د دغو فکټورونو په نظر کي نیولو سره، آیا تاسو فکر کوي چې ستاسو نوی ستراتیژی به پلي شي؟

**نړیوال بانک:** موږ ډاډه یو چې دغه پیسي په ښه لاره لګیدلي دي او موږ د کارپایلي د پروګرامونو د نتایجو څخه ارزوو. همدارنګه ما دا هم وویل چې موږ د حکومت د سیستمونو سره کار کوو او موږ په دې اړه د حسابونو د تصفیې او بیلانس چارې لرو څو د لګول شویو پیسو درک ولګوو. هو موږ ډاډه یو چې پیسي په سمه لګول شوې دي. د پروګرامونو د پلي کولو په اړه هم باید ووایم چې دغه ملي پروګرامونه نږدې ۷ کاله وړاندي یوه تشه مفکوره وه خو اوس دا په هیواد کې د وګړو د ظرفیت فعاله سرچنه ده او موږ په تیرو ۷ کلونو کې دغه تجربې ازمایلي دي نو ځکه موږ په دې اړه ډاډه یو، او په راتلونکی کې به هم د دې شاهدان و اوسو. ځکه موږ غواړو چې دغو ملي پروګرامونو ته زیاتې مالي سرچینې ورکړو. موږ فکرکو چې هغوي به وکولای شي افغانانو ته خدمتونه برابر کړي.

**د آزادۍ راديو:** آیا تاسو کولای شئ موږ ته ووایاست چې ټولټال نړیوالې مرستې د ۲۰۰۲ کال څخه راهیسی د افغانستان سره څومره دي؟

**نړیوال بانک:** په دی اړه زه کوم شمیره نه لرم. تاسو کولای شی چی دا شمیره د مالیی د وزارت څخه وپوښتی هغوی به تاسو ته شمیره درکړي.

**د لومړی چینل تلویزیون:** ننګونی په دی استراتیژي کی نه دي په داګه شوي، کولای شی چی دا واضح کړي او کومی ننګونی ستاسو په کار باندی اغیزه اچوي. تاسو وویل کو چیری مرستی په سمه توګه مصرف نه شی نو د حکومت مشروعیت تر سوال لاندی راځی، کو چیری دولت و نشی کولای چی دغه تشه ډکه کړی نو تاسو به خپلی مرستی په څه ډول ورسوي؟

**نړیوال بانک:** زما په اند ډیر وګړي د هغو ننګونو سره چې افغانستان ورسره مخ دی آشنا دي. تاسو په دې هیواد کې دیرش کلنه ویجاړتیا ګورئ، د جګړې مهال د خلکو لپاره سخت مهال دی. زه فکر کوم چې مه موږ واقعیت ته ځیر و اوسو نو هغه دا ده چې نه شو کولای ددې هیله ولرو چې شان سملاسي ښه کیدلای نه شي، نو ځکه موږ پوهیږو چې دلته ظرفیت محدود دی خو دا د حکومت په کچه او د هیواد په کچه د خصوصي سکتور په برخه کې ښه کیږي، ماشومان ښوونځیو او لویان پوهنتونونو ته ځي. دا ټول په راتلونکی کې مرسته کوي، نو ځکه زه فک رکوم چې موږ ګورو چې کارونه په سمه روان دي. امنیت په ځینو ځانګړو ډګرونو کې یوه ننګونه ده، توپوګرامفی هم پخپله یوه ننګونه ده. خو موږ سیستمونه او داسې لارې چارې ګورو چې پر دغو ننګونو لاس بری راولو او پرمختګ شته. موږ ګورو چې د حکومت ظرفیت په تدریجي ډول جوړیږي او د خدمتونو رسیدنه ترسره کیږي نو ځکه زه فکر نه کوم چې دا هم څه نه دی چې هغه یې نه شي کولای. دا به دې مانا ده چې ویش مال ته وکتل شي او باید چې باوري و اوسو چې موږ داسې مرستې برابرو چې د هغو له مخې حکومت توامند شي، نو ځکه موږ ده د مرستو مسلې ته بیا راشو کله چې د بودجې موضوع مطرح کیږي، ځکه کله چې تاسو د پیسو منجمنت کوئ او غواړئ چې خدمات ورسوئ او دا چې هیوادوالو ته حساب ورکړئ بغیر له هغه تاسو نه شی کولای چی په مخ ولاړ شیږ. نو موږ په دې برخه کې خورا پرمختګ لرو.

**د آزادۍ راديو:** هغه ټولې مرستې چې تاسو افغانستان ته ورکړې دي نو هغه تر اوسه پورې ۵ میلیارده ډالرو ته رسیږي د دې څومره برخه کمک دی او څومره یې پور دی؟

**نړیوال بانک:** د دې لپاره چې دغه شیمره کره شي د نړیوال بانک له خوا ۱،۸۹ میلیارده ډالره ورکړای شوی دي د دې څخه ۱،۴۵ میلیارده یې بلاعوضه مرسته ده او ۴۳۶،۴ میلیونه یې پور بی د ګټې په بدل کې دی.